څوک چې د علم په لټه کې ووځي تر هغه پورې چې بیرته راګرځیدلی نه وي د الله - تعالی - په لار کې دی.

له انس - رضي الله عنه - څخه مرفوع روایت دی: «څوک چې د علم په لټه کې ووځي تر هغه پورې چې بیرته راګرځیدلی نه وي د الله - تعالی - په لار کې دی».

[حسن] [ترمذی روایت کړی دی]

څوک چې د خپل کور او کلي څخه د شرعي علم په لټه کې ووت، نو دا د هغه چا په حکم کې دی چې د الله - جل جلاله - په لار کې د جهاد لپاره وتلی وي، تر دې چې بیرته خپلې کورنۍ ته راوګرځي؛ ځکه دی هم د دین په راژوندي کولو ، د شیطان په خوارولو او د نفس په ستړي کولو کې لکه د مجاهد په څېر دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4191